**یادونه: هغه ځانګړي افغان او اوکراییني اتباع چې پارول یا د موقتي استوګنې جواز لري کولی شي خپل پارول د کار جواز په توګه وکاروي.**

د متحده ایالاتو د کډوالۍ او تابعیت اداره یا USCIS د ۲۰۲۲ کال د نوامبر پر ۲۱ نیټه اعلان وکړ چې هغه ځانګړی اوکراییني او افغان اتباع چې د لنډمهاله استوګنې جواز یا پارول لري او متحده ایالاتو ته د ننوتلو ځانګړې کټګورۍ پکې شامل دي کولی شي د خپل پارول سند د کار جواز په توګه وکاروي.

- هغه خلک چې متحده ایالاتو ته I-94 معتبره فورمه، یا د ننوتلو سند کې د UPH یا OAR منلو کټګورۍ شامله وي کولاي شي دا د منلو وړ سند په توګه د لنډمهاله هویت او کار مجوز په حیث چې په لیست A اسنادونو کې درج شوي د کار موندنې لپاره د وړتیا او کاري شرایطو تصدیق کولو لپاره د I-9 فورمې سره په مطابقت کې وکاروي.
- هغه خلک چې امریکا ته د I-94 معتبره فورمه، یا د ننوتلو سند کې د DT داخلې کټګورۍ شامله ده او د ۲۰۲۲ کال د فیبروری د ۲۴ او د ۲۰۲۳ کال د سپټمبر 30 تر منځ صادر شوي وي، او اوکراین د تابعیت هیواد په توګه څرګنده کړي کولاي شي هغه د لنډمهاله هویت سند په توګه چې په A لیست کې درج شوی د منلو وړ سند د کار موندلو لپاره د I-9 فورمې مطابق وکاروي.

د ګمارنې وروسته تر ۹۰ ورځو پورې ( یا د بیا تائیدي په صورت کې، چې د کار د جواز تاریخ تیریږي) کارمند باید یو سند د لاندې اسناد څخه وړاندې کړي:

1. یو تاریخ درلودنکې د کار مجوزسند (EAD) یا
2. یو ټولنیز امنیتي کارډ [1] یا social security card چې محدودیتونه ونه لري او د هویت د B لیست سند د قبول شوي اسنادو څخه وي.

هغه کسان چې د I-94 فورمه یې امریکا ته د ننوتلو پر وخت تر لاسه کړې دي باید د I-94 ویب سایټ وګوري او خپل د I-94 فورمه پرینټ کړي.

**دا پالیسي یوازې د هغو وړ کسانو لپاره پلې کیږي چې د داخلي امنیت وزارت لخوا د پارول یا لنډمهاله استوګنې جواز نه دی لغوه شوی.**

د نور معلوماتو لپاره د USCIS Temporary Workers page د موقت کارګرانو پاڼه وګورئ

[1] ټولنیز امنیتي کارډ چې کاري محدودیتونه ونه لري ممکن د هغو اشخاصو لپاره چې په دائمي ټوګه به متحده ایالاتو کې نه دی منل شوي ممکن شتون و نه لري. لاندي ویب سایټ وګورئ
https://www.ssa.gov/ssnumber/cards.htm